# د سیلاب څخه وروسته چڼاسکه

مې 2024

چڼاسکه یوه عمومي اصطلاح ده چې د فنګس د ځینې ډولونو تشریح کولو لپاره کارول کیږي. هرچیرې چې لوندوالی، چڼاسکه وده کولی شي. دا کولی شي په خواړو، د ودانۍ په توکو، لوښو، جامو او نورو سطحو وده وکړي. د چڼاسکه ډېرى ډولونه دي چې په رنګ او بڼه کې توپیر لري. د چڼاسکه هیڅ ډول د "تور چڼاسکه" نوم نه لري. د چڼاسکه سره مخ کېدل ستاسو په روغتیا اغېز کولی شي.

> که چیرې سېلاب راغلی وي او د 24 څخه تر 48 ساعتو پورې وچ شوی نه وي نو وګڼئ چې ستاسو په کور یا ودانۍ کې چڼاسکه شته.

## د چڼاسکه دپاره ازموینه

**د چڼاسکه لپاره ازموینه اړینه نه ده یا سپارښتنه یې نه کیږي.** دا ځکه چې:

- کېدی شي د دې په پایلو پوهېدل ستونزمن وي ځکه چې د پایلو پرتله کولو لپاره هیڅ معیار نشته.
- د ازموینې پایلې د دې ټاکلو لپاره نه شي کارول کېدی چې کومه ودانۍ "خوندي" یا "ناخوندي" ده.
- که ستاسو په کور یا ودانۍ کې هر څومره اندازه یا کوم ډول چڼاسکه وي، خو د ستونزې د حل لپاره د عمل ګامونه یو شان دي: د چڼاسکه توکي لرې کړئ، ځای وچ کړئ، او د اوبو د ننوتلو سرچینه سمه کړئ.

## ځان د چڼاسکه څخه ساتل

- حفاظتي جامې واغوندئ، لکه پتلون او اوږده لستوڼي لرونکي کالي، د واټرپروف کاري بوټان، د ربړ دستکشې، عینکې، او یو ځل کاریدونکی 95N ریسپیریټر.
- ماشومان، د سا ستونزې لرونکي خلک او د کمزورې معافیت لرونکي خلک مه پرېږدئ چې د سېلاب وروسته په پاکولو کې درسره مرسته وکړي.
- د HEPA (د لوړ موثریت ذراتو هوا) سپکو فلټرونو سره هوا پاکوونکي وکاروئ. په کور کې د هوا پاکوونکو لپاره د EPA لارښود وګورئ (اړیکه په پښتو کې).
- د چڼاسکه لرونکي برخې جلا کولو دپاره د پلاسټیک څادرې وکاروئ او د خپل کور یا ودانۍ نورو برخو ته د دوړو، ملبې او چڼاسکه خپریدلو مخنیوی وکړئ. د EPA څخه د مخنیوي په اړه نور معلومات زده کړئ (اړیکه په پښتو کې).
- خپل د تودوخې، هواء، او د ایرکندیشن (HVAC) سیسټم د چالانولو دمخه د کوم مسلکي له خوا وګورئ او پاک کړئ چې د چڼاسکه پاکولو تجربه لري.

## د چېاسکه ستونزه حلول

د چېاسکه د ستونزې حلولو لپاره ، چېاسکه لرونکي توکي لرې کړئ او خپل کور یا ودانۍ په بشپړ ډول وچه کړئ. که ستاسو کور یا ودانۍ په بشپړ ډول وچه نه وي نو چېاسکه به بیرته بیا کېږي.

**خپل کور یا ودانۍ په دې ډول وچ کړئ:**

- د هوا بهیر روانولو دپاره د دننه او بالاخانې لارو په ګډون ورونه او کړکۍ خلاصې کړئ.
- په کړکۍ یا دروازه کې لوندوالی ختموونکي ماشینان او پنکې وکاروئ (کله چې برېښنا خوندي وي) څو هوا ستاسو کور ته نه ننوځي خو بهر ته ووځي چې د چېاسکه د خپرېدو مخنیوی وکړي.

**د دې ګامونو اخیستلو سره چېاسکه لرې کړئ:**

- سابون او اوبه وکاروئ او هغه چېاسکي لرونکي توکي پاک کړئ چې اوبه نه اخلي (لکه ښیښه، پلاستیک، مرمري کاڼي، ګرېنایټ، سیرامیک ټایل، فلز). هر هغه سطحه چې د سېلاب تر اوبو لاندې شوې وي، د پاکولو وروسته له جراثیمو پاکه کړئ.
- هغه توکي چې په اسانۍ سره اوبه اخلي لرې کړئ او بدل کړئ (بالښتونه، توشکې، ډرای وال، غالۍ، د موصلیت، او چت ټایلونه). که ستاسو د ماشوم د موټر څوکۍ د سېلاب د اوبو سره مخ شوې وي او په ماشین کې مینځل کېدی نه شي، نو لرې یې وغورځوئ. د موټر د څوکیو زینونه هېڅکله مه وینځئ.
- جامې او نور ټوکر په تودو اوبو او سابون ومینځئ، په ګډون د هغه جامو چې د پاکولو پر وخت مو اغوستې وي. دا د پاکو توکو څخه جلا وساتئ.
- د HEPA ویکیوم سره صفایي وکړئ.

## قراردادي په کار ګومارل

- که تاسو په خپل کور یا ودانۍ کې د چېاسکي (مولډ) پاکولو لپاره څوک ګومارئ او هغوی کېمیاوي توکي کاروي، کېدی شي هغوی [د کرنې، خوړو او بازارونو د ادارې](#) له خوا تصدیق ته اړتیا ولري (Agency of Agriculture, Food and Markets). د چېاسکي پاکولو لپاره کارېدونکي ډېری کېمیاوي توکي چینجي وژونکي وي او کاروونکي باید د دې د کارولو لپاره روزل شوي وي. تاسو کولی شئ د چېاسکي د مخنیوي لپاره د کارېدونکو تولیداتو په اړه د پوښتنو لپاره agr.pest@vermont.gov ته برېښنالیک ولیږئ.
- که چېاسکه د 10 مربع فوټو څخه زیات ځای پوښلی وي (شاوخوا 3 ضرب 3 فوټه)، کېدی شي تاسو کوم قراردادي ګومارئ چې د چېاسکه پاکولو کارپوه وي. د 10 مربع فوټه څخه کم د چېاسکه ستونزې لپاره قراردادي ته اړتیا نه وي.
- له قراردادي څخه وغواړئ چې د دې لاندېنیو په څېر سازمانونو څخه د پاکولو لاربښوونې تعقیب کړي [د چاپېریال ساتنې ادارې](#) یا [د تفتیش، پاکولو او بیارغونې تصدیقولو انستیټیوټ](#) (IICRC) (اړیکې په پښتو کې).
- د نورو قراردادیانو په څېر، حوالې ترلاسه کړئ څو د قراردادي تجربې، د تېر کارونو بریا وارزوئ، او دا چې نور پېرودونکي د دوي کار خوښوی یا نه.

## د کرایه کوونکو او کارمندانو لپاره مالومات

که تاسو کرایه کوونکی یا کارمند یئ، د چېاسکه د ستونزو په اړه د خپل کور څښتن یا ګومارونکي خبرې وکړئ. که ستونزه جدي وي او شرایط دوام لري، نو کېدی شي کرایه کوونکي غواړي چې [د اور وژنې د](#)

ځانګې سره شکایت ولیکی (اړیکه په پښتو کې)، او کېدی شي ګومارونکی غواړي د ورمونټ د مسلکي خوندیتوب او روغتیا اداري (VOSHA) سره اړیکه ونیسي.

## تکراري پوښتنې

**که زما کور یا ودانۍ تر سېلاب لاندې شوې وي، نو زه باید د چڼاسکه لپاره ازموینه وکړم؟**

نا، د چڼاسکه لپاره ازموینه اړینه نه ده یا سپارښتنه یې نه کېږي. که ستاسو کور یا ودانۍ تر سېلاب لاندې راغلي وي او تاسو نشئ کولی د 24 څخه تر 48 ساعتو یې وچ کړئ، نو دا وګڼئ چې چڼاسکه به وده کړې وي.

**ولې زه سابون او اوبه وکاروم؟**

سابون او اوبه خوندي او اغېزمن دي. په عامه توګه د چڼاسکه وژلو لپاره د جراثیمو ضد درملو کارولو سپارښتنه نه کېږي. مړه چڼاسکه بیاهم د ځینو خلکو دپاره روغتیایي اغېزې لري. چڼاسکه باید په فزیکي توګه لرې کړل شي. لومړی، د چڼاسکه لرې کولو لپاره سطحې د سابون او اوبو سره ومینځئ. بیا، د HEPA ویکیوم سره دغه سطحې پاکې کړئ.

**کله باید زه په خپل کور یا ودانۍ کې سطحې له میکروبو پاکې کړم؟**

په عامه توګه د چڼاسکه وژلو لپاره د جراثیمو ضد درملو کارولو سپارښتنه نه کېږي. بیاهم، تاسو هغه سطحې له میکروبو پاکولو ته اړتیا لرئ چې د سېلاب تر اوبو لاندې راغلي وي. تاسو دې ته هم اړتیا ولرئ چې د بنسټ سوري توکي یا د بنسټ هغه توکي چې درزونه لري (د بېلګې په توګه، ډبره، د بلاک دېوال یا کانکریټ) له میکروبو پاک کړئ څو هغه چڼاسکه ووژنئ چې یوازې د پاکولو له لارې یې نشي لرې کولی. لومړی، سطحې د سابون او اوبو سره پاکې کړئ. بیا په راتلونکې پوښتنه کې لارښوونې تعقیب کړئ او دا له میکروبو پاکې کړئ.

**که زه سطحې له میکروبو پاکولو ته اړتیا لرم، نو له میکروبو پاکولو کوم ډول شیان وکاروم؟**

که امکان ولري، د بلیچ کارولو پرځای د میکروبو پاکوونکې هغه شیان وره کړئ چې خوندي چټک اجزا کاروي - لکه هایډروجن پراوکساید، سیټریک تېزاب، ایتانول یا لیکټیک تېزاب. ډاډ ترلاسه کړئ چې د تولید پر لیبل ورکړل شوې ټولې لارښوونې تعقیب کړئ او ژغورونکې جامې واغوندئ، په ګډون د یو ځل کارېدونکي N-95 ماسکونو، دستکشې او عینکې. [له میکروبو پاکوونکو شیانو په اړه نور مالومات ترلاسه کړئ](#) (اړیکه په پښتو کې).

**که زما بیسمینټ ډېری وختونه لوند وي، نو زه څنګه کولی شم په راتلونکي کې د چڼآسکه مخنیوی وکړم؟**

په خپل کور یا ودانۍ کې د اوبو او لوندوالي د ستونزو مخنیوی کول په راتلونکي کې د چڼاسکه د ودې د مخنیوي لپاره مهم دي. په لوند بیسمینټ کې، د 40 او 60٪ پرتلیز لوندوالي ترمنځ د لوندوالي لرې کوونکي وسیلې چلول مرسته کولی شي. بېسمینټ چې ډېر لوند وي، کېدی شی د اوبو یا د نکاسی سیستم لګولو ته اړتیا ولري یا بدلونونه کول اړین وي څو د کور یا ودانۍ د بنسټ سره لګېدلې اوبه لرې کړئ. د کوم مسلکي سره خبرې وکړئ څو د خپل کور یا ودانۍ لپاره د غوره سیستم په اړه بحث وکړئ.